# پښتو ادب کښې تصوف

- په پښتو ادب کښې تصوف پر دريو پړاونو باندې وېشل سوی دی.

- – لومړۍ دوره
- – دوېمه دوره – روښاني تصوف
- – درېيمه دوره – حمزه شنواری

# په پښتو ادب کښې د تصوف لومړۍ دوره

- پوهان د پښتو ادب په لومړۍ تصوفي دوره کښې:
- د شېخ متي غوريا خېل،
- شېخ عيسی مشوانی،
- شېخ علی سرور لودي،
- شېخ بستان بړېڅ
- او شېخ محمد صالح الکوزی نومونه يادوي.

# لومړۍ دوره – شیخ متي غوریا خېل

- ځيني پوهان د پښتو عرفاني افکار لومړۍ ځرک د بيټ نيکه په مناجات کښې ويني. کېدلی دا ومنو چي دغه پاړکي د دغسې افکارو ځلاوې لري، خو په منظم ډول يو عرفاني فکر پکښې نه دی پالل شوی.

- د پښتو ادب په زړو اثارو کښې چي په منظم ډول يو عرفاني او تصوفي فکر په هنرمندۍ بيان شوی دی، هغه د شيخ متي غورياخېل مناجات دي. د شېخ متي پلار شېخ عباس نومېده.

- د پټې خزانې له مخې شيخ متي د شيخ عباس زوی او پر (۶۲۳ ق ه) زېږېدلی و، چي د پينځه شپېتو کلو په عمر پر (۶۸۸ ق ه) کال د ترنک په غاړه وفات شو

# لومړۍ دوره– شیخ متي غوریا خېل

- د خدای مینه
- شیخ متي غوریاخېل د خدای مینه په نامه د کلات په غونډان کښې د خپلو اشعارو کتاب بشپړ کړ.
- دا کتاب پر دې سیمه د مغولو تر حملو پوري موجود وو او د شیخ متي پر قبر به پروت وو.
- د شیخ متي اشعار پر وحدت الشهود بنا دي.
- د مناجاتويې يوه برخه دلته راوړو:

# د شیخ متي د مناجاتو یوه برخه

په لویو غرو هم په دښتو کې　　په لوی سهار، په نیمو شپو کې
په غاړه ږغ او په شپیلکو کې　　یا د ویرژلیو په شپیلو کې
ټول ستا د یاد نارې سوې دي
دا ستا د مینې نندارې دي
خاونده ښکلی ستا جمال دی　　ښکاره یې لور په لور کمال دی
که ورځ، که شپه، که پیرۍ، کال دی　　ستا د قدرت کمکی مثال دی
ستا د لورونو یوه رڼا ده
دلته چې جوړه تماشا ده

# شېخ عیسی مشوانی

- شېخ عیسی مشوانی د ژوند زمانه ۹۵۰ ق ه شاوخوا ټاکل شوې ده. د افغان باچا شېرشاه سوري معاصر و.
- ده په پښتو، پارسي او هندي ژبو ي،ه ګډه رساله لیکلې وه، چې منظومه وه. له دغو درې سرو ژبو څخه د ده د کلام نمونه مخزن افغاني او نورو کتابونو اخیستې ده.
- دلته یې د پښتو یو شعر لاندې راوړو:

په خپله کار کړې، خپله انکار کړې
کله باداریې کله مې خوار کړې

ته خو قادر یې په صفتونو
کله مې نور کړې، کله مې نار کړې

عیسی حیران دی، په دې شیونو
کله مې یار کړې، کله اغیار کړې

# شیخ علی سرور لودي

- شیخ علي سرور په لسمه هجري پیړۍ (۹۲۰ ق ه) د ملتان کښې اوسیده.
- ده د مریدانو یوه حلقه لرله او پر دې سربېره خلګو به هم د دیني او عرفاني ستونزو د هوارولو د پاره و ده ته رجوع کوله.
- د پټې خزانې مولف له (تحفه صالح) څخه د علي سرور لودي یوه غزل را وړې ده:
- محبت پاله مې نوش کړه په مجاز کې — د حق نور وینم په سترګو د ایاز کې
- درست وطن راته دریاب شو بې دیدنه — دید مې نشي مګر خدای مې سبب ساز کې
- که زه مړ شم هم له ګوره کړم سر پورته — ناګهان چې مې دلبر پورته اواز کې
- که مې سر غوڅ د رقیب په تېره تیغ سي — هم به څم که دلبر غوښت په مهروناز کې

# شیخ بستان بړیڅ

- د شیخ بستان د پلار نوم محمد اکرم وو، دی د ښوراوک له بړیڅانو څخه و. په ځواني کښې هندوستان ته تللی وو، او په ۱۰۰۲ ق ه کال د ګجرات په احمد اباد کې وفات سو.

- د ده یوه غزل د پټې خزانې مولف داسې را نقل کړې ده:
- اوښکې مې څاځکې پر ګریوان یو وار نظر که پر ما　　　　راسه ګذر که پر ما
- د مینې اور دې زما زړګی وریت په انکار کئ نا　　　　ښې تار ونار کئ نا
- د خپل عزت په روی بستان ته کړه د مهر ښندل　　　　کړې له ګناهه ګواښل
- اوښکې مې څاځې پر ګریوان یو وار نظر که پر ما　　　　راسه ګذر که پر ما

# شېخ صالح الکوزی

- شېخ صالح الکوزی د کندهار په سیمه کښې تېر سوی دی.
- پوهاند حبیبي د ده د ژوند زمانه د ۱۰۰۰ق ه شاوخوا ټاکلې ده.
- پټې خزانې د ده دوې غزلې د ملا الله یار د تحفه صالح څخه را نقل کړې دي:
- د لیلا د مینې فیض هر سبا ورم　　　　بیهوده منت به ولې د نور چا وړم
- بې له عشقه خوشحالۍ پر ما حرامه　　　　زه صالح که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم

- دویمه غزل
- چي په زړه یې غشي څرخ سي د چشمانو　　　　روغ به نه سي په دارو د طبیبانو
- نصحیت زړه غواړي، زړه نسته کوګل کې　　　　زړه مې وړی په منګولو خوبرویانو

# روښاني تصوف

- د روښاني تصوف بنسټګر بايزيد روښان وو. دی په ختېه اورمړ او د وزيرستان په کاڼي ګرم سيمه کښې اوسېده. د پلار نوم يې قاضي عبدالله وو. بايزيد د ۹۲۷–۹۲۴ په مينځ کښې په جالندهر کښې زېږېدلی وو.
- بايز ۲۱ کاله په خپل سر رياضت وکړئ، او بيا د پيرۍ درجې ته ورسيدو. بايزيد بېلا بيلو سيمو ته سفرونه وکړل او د خپلې طريقې تبلغ يې پيل کړ.
- د پير روښان په حلقه کښې نارينه او ښځې دواړه وې.
- پير روښان د خپل تصوف د خپرولو د پاره بيلا بېل اثار هم ليکلي وو، چي نومونه يې دا دي:

# د پیرروښان اثار

- صراط التوحید : دا په عربي او پارسي لیکل شوی دی. په دې کښې د بایزید د کوچنیوالي احوال، د دعوت خبرې، واکمنو ته درې نصیحتونه.
- مقصودالمومنین: دا یې د خپل زوی شېخ عمر په غوښتنه په عربي لیکلی دی.
- فخر الطالبین: نوم یې په حالنامه کښې راغلی دی، خو موندل سوی نه دی.
- خیرالبیان: د بایزید روښان تر ټولو مهم کتاب دی چې په څلور ژبو کښې لیکل شوی دی: عربي، پښتو، پارسي او هندي. دا کتاب څلوېښت (۴۰) بابونه لري، چې عقاید، شرعي احکام ، عرفاني او اخلاقي بحثونه پکښې ځیرل شوي دي.
- بایزید د اغاز پور له جنګه دوه نیم کاله وروسته، یعني ۹۸۵ ق ه کښې وفات سو. د اغاز پور جنګ په ۹۸۳ کښې واقع شوی وو.
- بیا د پیرروښان مریدان د ده تصوفي افکار په مخ وړي او د خپلې شاعرۍ یوازینی موضوع یې ګرځوي.